# بادام: د بڼ کښېنول

ټېلفون: 0799-758-977 برېښناليك:javid.hamidzada@rootsofpeace.org

## د بڼ کښېنول

### 1. مخکي د اېښودلو څخه

a. **د ځمکي چمتو کول.** ځمکه چمتو کړئ ترڅو چې د نيالګي پاتي شوني لري شي. ځمکه داسي برابره کړئ چې اوبه ورڅخه په آسانۍ سره بهر ته لاړې شي او هرې ونې ته په برابره توګه اوبه ورسيږي. اوبه بايد وروسته د اوبو ګولو څخه تر ۲۴ساعتونو ولاړې پاتي نه شي.

b. **اوبه ګول:** د اوبو ګولو داسي مناسب سيټم جوړ کړئ، چې و کولاي چې هر لس ورځې وروسته (په ښکلنو ځمکو کې) ونو ته د ودې په موسم کې اوبه ورکړاي شي. د درندو خاورو (غيرښکلنه ځمکه) لپاره په دوه اونيو کې يو ځل اوبه ورکول کيداي شي.

### 2. د نيالګيو اېښودل:

a. ځواني نيالګي وپيرئ چې د ريښو ډيره اندازه ولري.

b. د نيالګيو ريښې په يوې لندې بوجۍ ټېي کړئ ترڅو د ليرد پرمهال يې ساتنه وشي. مه پريږدئ چې ريښې وچې شي.

c. په کرونده کې د نيالګيو ريښې ترڅو چې کښېنول کيږي په لندې خاورې سره ټېي کړئ.

d. نيالګي په سړو ورځو کې کښېنوئ (۱۵-۵.۰ درجې سانټيګراد).

e. نيالګي په چمتو شوې خاوره کې، په مناسب ژوالي سره، او پراخو شويو ريښو سره کښېنوئ (شکل ته ځير شئ). نيالګي يوله بل څخه ۵.۵ متره لري په هغو قطارونو کې ۶ متره سره لري وي کښېنوئ.




f. نيالګی وروسته د کښېنولو څخه اوبه کړئ ترڅو د هوا خالي ځايونو څخه مخه ونيسي. د هوا خالي ځايونه د ريښو د تاويدو سبب کيږي.

### 3. وروسته د نيالګي د کښېنولو څخه چلند

a. خاوره لنده وساتئ- خو نه له حده ډيره – د نيالګيو تر ريښو پوري په هغو کاسو کې چې د نيالګي په چاپير کې دي.

b. ساحه يوې يا رمبی کړي ترڅو بيکاره بوټي د نيالګي څخه لري وساتل شي.

c. ځمکه په لږي سرې سره ځواکمنه کړئ. هره يوه مياشت وروسته، ۰۰ ګرامه ۱۵:۱۵:۱۵ د هر نيالګي لپاره (۵ ګرام نايتروجن چمتو کړئ):زيښتغزياته سره به نيالګی وسوځوي.

**معمولي غلطياني چې بيا ترې ډډه وشي. هره يوه د ديو کولاي شي چې نيالګی له منځه يوسي مه کوئ!**

- د ۱۲ساعتونو څخه ډير د نيالګي ساتل د اوبو په يوه سلواغه کې.
- د نيالګي ډير سطحي (سرسرين) يا ډير ژور کښېنول.
- ريښو ته اجازه ورکول چې تاو را تاو شي يا بيرته د غوجوري خولي خواته وده وکړي.
- د نيالګي شاوخواته د بيکاره ونو راوتل.
- د نيالګو پريښودل په قوطيو کې چې د لمر سره مخامخ وي.
- د نيالګي کښېنول په وچه خاوره کې.

**د جان ډرايور، کورکی لوين او مارك يه واسطه چمتو شوی، د ۱۳۸۷ کب مياشت**

دا خپرونه د اروپايي اتحاديې، د ښوالی د پرمختيا پروګرام، د بادامو د صنعت د پرمختيا د پروژې په مالي مرسته، د سولې بنسټ د مؤسسې د ASIE/2007/135-504 قرار داد لاندې چمتو شوې. کابل ټېليفون 794677212 (0) 93+،
zach@rootsofpeace.org
ددې خپرونې د محتوي مسؤليت په بشپړه توګه د کاليفورنيا د ډيوس پوهنتون په غاړه دی او په هيڅ صورت سره د اروپايي اتحاديې د نظر څرګندويه نه ده.
د خپريدو حق © UC Regents Davis campus، 2009 ميلادي ټول حقوق خوندي دي.

**د ډيرو معلوماتو لپاره د:** www.rootsofpeace.org, http://ec.europa.eu/europeaid/index_en.htm, www.ip.ucdavis.edu **مراجعه وشي**